سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۵/۱٦

# ته ځوک یې؟

گلان چې په لمبو کې سوزیده، ته خندیدی!
چې ننګ په کاغذونو بدلیده، ته خندیدی!

څه داسی ښکاریده لکه حاکم چې وی شیطان
ښارونه چې وحشت کې ورانیده، ته خندیدی!

کـوله تمـاشـا دی د با با د غـر ه له ځـوکي
بمـونـه چی په خلکـو وریـده، ته خندیدی!

ته ځوک یی نه پوهیږم ئی دکومی دنیا زوی؟
کـورونه چې درو کی نړیـده، ته خندیدی!

لعنت درته له ورایـه اسـتولو خپـلی مور
چې ورورډی دمورغیرکی مړکیده، ته خندیدی!

حیران یم چی نن څنګه شوی ناجی د پرګنو؟
پرون چی دا مخـلوق هلاکیـده، ته خندیدی!

نن هــم کلــه پـرون کــوی سلوک د لیونو
خوا خوږی کلیوال دی غرقیده، ته خندیدی!

یادونه: که چیری گران لوستونکی وغواړی چی ددی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نوکولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!